CDPH
California Department of Public Health

# له ناروغو چرګانو سره د کار کولو پر مهال د مرغانو له زکام څخه ځان وژغورئ



## د مرغانو زکام کولی شي له چرګانو څخه خلکو ته خپور شي او تاسو ناروغه کړي.

- یاد ویروس د ناروغو مرغانو په فاضله موادو، مایعاتو یا بڼکو کې شتون درلودلی شي.
- دا کولی شي په هوا کې د اوبو شیندلو، دوړو یا څاڅکو له لارې خپور شي. دا کېدای شي سترګو، پوزې، خولې او سږو ته داخل شي.
- دا په داسې حال کې هم خپرېدلی شي کله چې تاسو اخته شوې سطحې لمس کړئ او بیا خپل مخ لمس کړئ.

## خپلې سترګې، پوزه، او خوله خوندي کړئ.

هرکله چې له داسې مرغانو سره کار کوئ چې ښايي ناروغه وي نو تل د شخصي خوندیتوب تجهیزات (PPE) واغوندئ.



د خوندیتوب یا هغه عینکې چې سترګې په بشپړ ډول پوښي (په غیر مستقیم ډول د هوا د وتلو وړ) په سترګو کړئ.



N95 تنفسي ماسک یا لا ډېر اغیزمن تنفس کوونکی واغوندئ.



دستکشې واغوندئ او خپل مخ مه لمس کوئ.



د کار کولو پر مهال، زیاتره لاسونه ووینځئ یا یې پاک کړئ.



سربیره پردې، هغه پوښاکونه چې ټول بدن پټوي، د اوبو ضد لباسونه، بوټان او د سر یا ویښتانو د پټولو لباس واغوندئ.

## د لوړ خطر لرونکو دندو لپاره اضافي PPE ته اړتیا ده.

ځینې دندې کولی شي تاسو د لا زیاتو ویروسونو یا زیان رسوونکو کېمیاوي موادو سره مخ کړي، نو ځکه لا زیات خوندیتوب ته اړتیا ده. په دې دندو کې لاندې موارد شامل دي:

- د رمو کمول؛
- د مړو شویو مرغانو لېږدول او یا کوم بل ګټور شي بدلول؛
- د غوجلونو پاکول او غیر منتن کول؛
- یا په سرپټو ځایونو کې کار کول، چېرې چې ویروس کولی شي وده وکړي.

په داسې شرایطو کې، د N۹۵ تنفسي ماسک ستاسو د سږو ساتنې لپاره کافي نه دی. همدارنګه، په یاد ولرئ چې خپلې سترګې باید خوندي وساتئ. له لاندې څخه یو واغوندئ:



د P-100 فلترونو لرونکی د نیم مخ ایلیسټومیریک (ربړ ډوله) تنفس کوونکی او په غیر مستقیم ډول د هوا د وتلو وړ عینکې.



د P-100 فلترونو لرونکی د بشپړ مخ ایلیسټومیریک (ربړ ډوله) تنفس کوونکی



د لوړ موثریت د هوا د ذراتو فلترونو لرونکی (HEPA) د برېښنا لرونکی د هوا پاکولو تنفس کوونکی (PAPR)

- که چېرې کېمیاوي توکي په دې دندو کې شکېل وي، د هوا مناسب پاکوونکی غوره کړئ.
- د غوجلو پاکولو او غیر منتن کولو پرمهال باید د مایعاتو پر وړاندې مقاومت لرونکې لباسونه واغوستل شي.
- ټول PPE باید ستاسو د کارګمارونکو له لوري وړیا چمتو شي.
- د کار وروسته، ټول PPE لیرې کړئ او شاور واخلئ.

## ود مرغانو د زکام د نښو نښانو لپاره ځان وڅارئ.

که تاسو د سترګو سوروالی یا د اوښکو راتلو په ګډون د زکام په څېر نښې نښانې ولرئ، خپلې ځایي روغتیا څانګې ته ورشئ. کارګمارونکي باید د هغو کارګرانو لپاره د کارګرانو د خسارې امتیازات چمتو کړي چې د کار پرمهال د مرغانو په زکام اخته کیږي. د کارګرانو د خسارې او د ناروغۍ معاش لرونکې رخصتۍ په اړه نورو معلوماتو لپاره، 1-800-736-7401 شمېرې ته زنګ ووهئ.

### د نورو معلوماتو لپاره:

د CDPH د مرغانو د زکام اړوند وېب پاڼه: **go.cdph.ca.gov/birdflu**

د خطر ارزونې سیستم او د معلوماتو خدمت د کار ځای د خطر د مرستې کرښه: (866) 282-5516

د فارم د کارګرانو د روغتیا ملي مرکز د روغتیا اړوند مرستې کرښه: 377-9968 (800) 1+ یا د WhatsApp له لارې په 999-4162 (737) 1 + شمېره اړیکه ونیسئ

مې 2025 © 2025، د کالیفورنیا د عامې روغتیا څانګه